# خور سره نیک سلوک کوئ

31-December-2020



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# خور سره نيك سلوك كوئ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللہ

**نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ** (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. دلته دا خبره ياده ساتئ چې د اِعتِكاف نِيَّت صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدو د پاره كول نه دي پكار بلكه چې مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاویٰ شامی**" كښې دي: كه څوك جُمات كښې خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ **ذِكۡرُ** الله اوكړي بيا چې څه غواړي كولے شي (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي) كه كيدے شي نو د اِعتِكاف د نِيَّت كولو نه پس دولس ځله دُرُود شريف اووائې يا بل يو نيک كار اوكړئ. **اِنۡ شَآءَاللّٰه** ثواب به مو زيات شي او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات كښې خوراک څښاک او اُوده كيدل وغيره هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت محمد بِن عبدُ الله خيام سمرقندي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: يوه ورځ زما نه لاره هيره شوه، ناڅاپه مې يو صاحب اوليدلو هغوئي زه ځان سره كړم. زما گمان شو چې دا **حضرت خِضَر** عَلَیۡہِ السَّلَام دے. ما ترينه تپوس اوكړو نو هغوئي خپل نوم **خِضَر** اوښودلو، يو بل بُزُرگ هم ورسره وو، د هغوئي د نوم تپوس مې اوكړو نو اوئې فرمائيل: دا **حضرت اِلیاس**

عَلَیْهِ السَّلَام دے. ما عرض اوکړو: الله پاك دِ په تاسو رحم اوفرمائي، آيا تاسو د سرورِ کائنات، شهنشاهِ موجودات صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کړے دے؟ په جواب کښې ئې اُوفرمائيل: آو، نو ما عرض اوکړو: د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلے يو حديثِ مبارك راته بيان کړئ چې زه ئې ستاسو نه روايت کړم. هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام اوفرمائيل: د رسولِ خُدا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: څوک چې په ما دُرُودِ پاك اولولي د هغه زړه د نفاق نه داسې پاك کړے شي څنګه چې په اوبو کپړه پاك کيږي او څوک چې **صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد** اُووائي نو هغه په خپل ځان د رحمت اويا دروازے بيرته کړي.[1]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[2]

**مَدَني ګل**: نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د بيان اوريدلو نيتونه

❁ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بيان واورئ ❁ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوکړئ ❁ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِيَّت هُم اوکړئ.

---

[1]... اَلْقَوْلُ الْبَدِیع ص۲۷۷، جَذْبُ الْقُلُوب ص۲۳۵

[2] (معجم کَبِیر سهل بِن سعد الساعدی...الخ [illegible]، حدیث [illegible])

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بیان موضوع ده "**خپلې خور سره نیك سلوك کوئ**". په دې بیان کښې به اَورو چې ☆ د یو خُراساني کس په عذاب کښې د اخته کیدلو څه سبب وو؟ ☆د خپلوئ ختمولو مذَمَّت ☆ په اسلام کښې د وینې د خپلوئ څه اهمیت دے؟ ☆ د خور وړور په خپل مینځ کښې تَعَلُّق څنګه پکار دے؟ ☆ د خپلوانو سره د تَعَلُّق ختمولو څه سپیروالے دے؟ ☆ د حضرت جابِر د خپلو خویندو سره نیك سلوك☆ د چا سره صلهٔ رحمي واجب ده؟ د دې نه علاوه به نور هُم ډیر اهم معلومات د اوریدلو سعادت حاصلوو. په ډیره توجه او د زړه په حاضرئ سره پورا بیان د اوریدلو کوشش اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه د ډیرو معلوماتو خزانه به په لاس درشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خور حق نه ادا کولو سزا

حضرت حامِد بِن یحیٰی رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: یو خُراساني کس د 60 کالو پورې په مکه مکرمه کښې اوسیدلو او ډیر زیات عبادت ګزار، زاهد او امانت دار کس وو، ورځ به ئې د قرآنِ کریم په تلاوت کښې او شپه به ئې په طواف کښې تیروله، خلقو به خپل امانتونه د هغه سره ایښودل، د یو نیك کس د هغه سره دوستانه تَعَلُّق وو، یو ځل هغه نیك کس چرته په سفر تللو هغه خپل خُراساني دوست ته لس زره دیناره د امانت په طور ورکړل او په سفر روان شو، چې کله د سفر نه بیرته راغلو نو معلومه شوه چې هغه خُراساني کس وفات شوے دے، هغه نیك کس د خُراساني وارثانو ته ورغلو او خپل امانت ئې اوغوښتلو، هغوئي اووئیل چې مونږ ته ستا د امانت په باره کښې څه عِلم نشته، هغه نیك کس د مکے مکرمے علماؤ ته ورغلو او خپله واقعه ئې بیان کړه،

علماؤ اوفرمائيل: مونږ د الله پاك د رحمت نه اميد لرُو چې مرحوم خُراساني به جنّتي وي او د جنتيانو روحونه د زمزم په كوهي كښې وي، ته د نيمي شپے نه پس د زمزم كوهي كښې دننه ښكته اوګوره او داسې غږ اوكړه: اے فلانكيه د فلانكي ځويه زما امانت چرته دے؟ تاسو ته به جواب دركړے شي. هغه داسې اوكړل او درې ورځې مسلسل ئې اوكړل خو د زمزم كوهي نه څه جواب رانغلو، هغه نيك كس بيا د علماؤ نه تپوس اوكړو. علمائے كرامو اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن اُووئيل او اُوئې فرمائيل: زمونږه خيال دے چې شايد هغه دوزخي دے. اوس ته په يمن كښې موجود بَرْهُوت نومې كوهي ته لاړ شه او داسې اوكړه ځكه چې په هغه [كوهي] كښې د دوزخيانو روحونه وي او هغه د جَهَنَّم په خُله باندې دے. هغه كس يمن ته اورسيدلو او بَرْهُوت نامي كوهي كښې ئې غږ اوكړو: اے فلانكيه د فلانكي ځويه! زما امانت چرته دے؟ لږ ساعت پس د هغه خُراساني كس آواز راغے نو دې نيك كس د افسوس او پريشانئ په حالت كښې د هغه نه تپوس اوكړو: ته خو عبادت ګزاره او د دُنيا نه بيزاره كس وې. ته ولې په عذاب كښې اخته شوې او دلته راغلې، خُراساني په جواب كښې اُووئيل: زما عبادت خو تاسو ته ښكاره وو خو زما يوے ګناه زما ټول عبادت ضائع كړو او په عذاب كښې ئې اخته كړم. زما ګناه دا وه چې زه د خپلې يوے معذورې خور نه بےپرواه شوے ووم او تَعَلُّق مې ورسره پريښودے وو، نه مې د هغې فِكر لرلو او نه مې د چا نه د هغې په باره كښې تپوس كولو. چې كله مړ شوم نو الله پاك په دې خبره اونيولم او اوئې فرمائيل: تا خپله خور څنګه هيره كړې وه؟ هغې سره جامے نه وې او تا په جامو كښې ژوند تيرولو، هغه اُوږې ترږې وه او تا په مړه خيټه خوراك كولو، زما دِ په خپل عِزَّت او جلال قَسَم وي! زه به خپلوي قطع كولو والا باندې رحم نه كووم. دا بوځئ او د بَرْهُوت په كوهي كښې ئې واچوئ. مَلَكُ الْمَوت زه دې كوهي كښې اچولے يم او اوس ما ته عذاب راكولے كيږي.

اے زما وروره! ته زما خور له لاړ شه او زما د پاره ترینه مُعافـي اوغواړه او ما د دې عذاب نه خلاص کړه، کیدے شي چې الله پاك په ما رحم اوکړي ځکه چې د الله پاك په بارګاه کښې د خپلوئ ختمولو نه علاوه زما بله ګناه نشته.

هغه نیك کس ترینه تپوس اوکړو: زما امانت چرته دے؟خُراساني اووئیل: زما د کور په فلانکي ځائے کښې خخ دے. لاړ شه او د هغه ځائے نه ئې را اوباسه. هغه نیك کس د کور ښودلے ځائے را اوکنستلو او خپل امانت ئې راویستلو او د خُراساني د خور په لټون کښې د هغه د آبائي علاقے طرف ته لاړو، معلومات ئې حاصل کړو او د هغه معذُورې خور ته اورسیدلو او ټوله واقعه ئې ورته بیان کړه. چې دا واقعه ئې واوریدله نو خور ئې په ژړا شوه، نیك سړي هغې ته د ورور د پاره د دُعا کولو اُووئیل نو هغې د خپلې محتاجئ ګیله اوکړه، هغه نیك سړي د هغې ضروریات پورا کړل نو خور ئې خوشحاله شوه [یعني خپل رورو ئې مُعاف کړو]، بیا هغه کس بیرته مکے مکرمے ته راغلو نو د دې کتلو د پاره چې دا کس د عذاب نه خلاص شوے دے او که نه نو یوه ورځ ئې په **زمزم** کوهي کښې غږ اوکړو نو مرحوم خُراساني جواب ورکړو چې: **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د **بَرْهُوت** کوهي نه خلاصے رانصیب شو او اوس په **زمزم** کوهي کښې په امن او په سکون یم.[1]

| | |
|---|---|
| یاالٰہی رشتہ داروں سے کروں حسنِ سلوک | قطعِ رحمی سے بچوں اس میں کروں نہ بھول چوک |

## د خپلوئ ختمولو مذَمَّت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوریدل چې خور سره د ښه سلوك نه کولو په وجه هغه خُراساني کس د دومره عبادت باوُجود په یو عمل کښې اونښتلو او عبادت هم هغه کوم چې په مکه مکرمه کښې وو هلته یوه نیکي د یو لاك نیکو برابره ده. او په

[1]... شرح الصدور، الباب التاسع والثلاثون، ص۱۷۸، حکایت:۷۴ بتغیر قلیل

عبادت کښې کړے شوے عمل هم داسې وو چې پورا ورځ به ئې د قرآن کريم تلاوت کولو او ټوله شپه به ئې په طواف کښې تيريدله. خو دې عبادتونو هغه د **الله** پاک د غضب نه بچ نه کړے شو. ځکه دا ياد ساتئ چې مونږ د دې علم نه لرو چې د چا په باره کښې د الله پاك پټ تدبير څه دے؟ هغه په کوم عمل د چا بخښنه اوکړي او په کومه ګناه څوک نيسي. د بيان شوي حکايت نه معلومه شوه چې د يو نيك بنده د کلونو د عبادت باوُجود صرف د قطعِ رحمئ يعنې خپلې خور سره د خير ښيګړي نه د بے پرواهئ د ګناه په وجه د عذاب په کوهي کښې قيد کړے شو. ډيره د افسوس خبره ده چې د خپلوئ ختمولو ګناه نن زمونږ په مُعاشره کښې يوه لويه بيماري جوړه شوي ده. په ظاهره د دې نه د خلاصي څه صورت نشته. څوك د پلار نه خفه دے او څوك د مور نه خفه جُدا اوسي. څوك د خپل ورور سره وران دے او څوك د خپلې خور نه خفه دے. بعضې د پرَدو خلقو سره خو ښه تَعَلُّق ساتي خو د ترور او ماما هډو تپوس نه کوي. افسوس! نن خلق په وړه وړه خبره د يو بل سره خپلوي ختموي.

**اے عاشقانِ رسول**! د هغه خُراساني کس په واقعه کښې زمونږ د پاره ډير عبرت دے، ياد ساتئ! د هر خپلوان سره تَعَلُّق ساتل شرعاً واجب دي.

د هغوئي نه بے پرواهي کول، تلل راتلل پريښودل، په خپله د مالدار کيدلو او د هغوئي د غريب کيدلو په صورت کښې د هغوئي د ضروورياتو خيال نه ساتل، خور ئې لوَږه برداشت کوي او ورور ئې په هوټلو کښې ښه ښه او خوندور خوراکونو کوي، خور ئې د نه پيسو په وجه د لونړو واده نه شي کولے او ورور ئې د خپلو ځامنو په ودونو کښې بيشميره روپئ لګوي، خور ئې زړے جامے اغوندي او ورور ئې هره ورځ نوي جامے اغوندي، خور ئې ځان له نوي جامے نه شي اخستلے او ورور ئې خلقو ته ګرانې او قيمتي جامے په تحفه کښې ورکوي، خور سره ئې د بيمارئ د علاج روپئ نه

وي او ورور ئې په خپله سالګره او د بچو په سالګره باندې بے دردۍ سره روپۍ خرڅ کوي. کونډه يا غريبه خور ئې د خپلو بچو د پالنې د پاره د خلقو په کورونو کښې لوښي وينځي يا په يو دفتر کښې په کار کولو مجبوره وي يا په کور کښې د خلقو وړو ته ټيوشن وائي يا د خلقو جامے ګنډي او په هغې خپله ګزاره کوي او ورور ئې د خپل واده سالګره مناوهي. خور ئې د نه پيسو په وجه د بيمارۍ د علاج نه کيدلو په وجه ژاړي او ورور ئې د خپلو دوستانو په محفل کښې خنداګانې کوي. اسلام داسې نه خوښوي. اسلام خو د دې خبرې تعليم ورکوي چې که ستاسو ورور خور محتاجه وي او تاسو ته الله پاك مال و دولت درکړے وي نو د ورونړو او خويندو د وراثت مطابق کفالَت کول واجب دي.

د خپلوانو سره تَعَلُّق ساتل دومره اهم دي چې په ټولو شريعتونو کښې د دې مستقل حکم موجود دے او په ټولو اُمَّتونو باندې دا [حکم] واجب کړے شوے دے. د **الله** پاك د نبـي حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام د اولاد نه په توحيد باندې د ايمان راوړلو او مور و پلار سره د ښه سلوك کولو نه پس د نِزدې خپلوانو سره د صِلهٔ رحمۍ وعده اخستے شوي ده. په اوله سيپاره، **سُورۂبقره** آيت نمبر **83** کښې ارشاد دے:

**وَ اِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِیْۤ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ وَ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّ ذِی الْقُرْبٰی** (پ1، البقرة:83)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او چې کله مونږه د بنـي اسرائيلو نه عهد واخستو چې د الله نه سِوا به د بل چا عبادت نه کوئ او د مور و پلار سره به احسان کوئ او د خپلوانو سره [هُم].

## په اسلام کښې د خپلوو اهميت

دا آيت په دې خبره دليل دے چې د وينې د خپلوو لحاظ ساتل څومره اهمه خبره ده چې د اسلام نه مخکښې هم د دې خپلوۍ مضبوطي ساتلو د پاره الله پاك د خپلو انبياؤ

په ذريعه په دې باندې د عمل کولو وعده اخستې ده او الله پاك په قرآنِ كريم كښې ځائے په ځائے د دې ذِكر كړے دے او د وينې د خپلوئ د احترام كولو حكم ئې كړے دے او صِلهٔ رِحمي كوونكو ته ئې د الله ويره ساتلو والا وئيلي دي، څنګه چې په سيپاره 13 سورهٔ رعد آيت نمبر 21 كښې ارشاد دے:

**وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَ يَخَافُوْنَ سُوْٓءَ الْحِسَابِ** (پ13، الرعد:21)

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان : او دا هغه دي چې يو ځائےکوي هغه چې **الله** ئې د يو ځائے كولو حكم كړے دے [يعني خپلولئ] او د خپل رب نه ويريږي او د بد حساب انديښنه لري.

په **تفسير صِراطُ الجِنان** كښې د دې آيتِ مبارَكه په تفسير كښې د ترغيب د پاره يو څو حديثونه بيان كړے شوي دي، چنانچه:

خوږ آقا مَكّـي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: (1) خپلوي ماتولو والا به جنت ته نه ځي.[1]

(2) يو بل حديث كښې اِرشاد فرمائي: څوك چې د خپل ورور په حاجت پوره كولو كښې اوسي **الله** پاك د هغه په حاجت پوره كولو كښې اوسي.

(3) خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوك چې د يو وروړ نه تكليف لرې كړي الله پاك به د قيامت په ورځ د هغه تكليف لرې كړي.[2]

(4) يو بل حديث كښې دي: خپلوانو سره ښه سلوك په رزق كښې د زياتوالي او په عمر كښې د بركت سبب دے.[3]

---

[1] ... بخاری، کتاب الادب، باب اثم القاطع، ۹۷/۴، الحديث: ۵۹۸۴

[2] ... بخاری، کتاب المظالم والغصب، باب لا يظلم المسلم المسلم ولا يسلمه، ۱۲۶/۲، الحديث: ۲۴۴۲

[3] ... بخاری، کتاب الادب، باب من بسط له فی الرزق بصلة الرحم، ۹۷/۴، الحديث: ۵۹۸۵

(5) خوږ مَكِّي مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د خپلو سره ښه سلوك دا دے چې كه د ده سره خپلوي ختمه كړے شي نو دے ئې ورسره جوړه كړي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** اسلام داسې خوږ دِين دے چې احكام ئې آسان دي او په دې كښې د ژوند پورا نظام موجود دے. په دې [يعني اسلام] كښې عمل وړوكے وي خو ثواب ئې زيات وي. په اسلام كښې د مور د ګېډې نه واخله قبر ته تلو پورې پوره نظام موجود دے، د ژوند د هرې شُعبے قوانين پكښې موجود دي. په اسلام كښې ماشوم ته د پے ئ وركولو، پئيو نه د پريك كولو، د پرورش كولو، د تعليم، روزګار، د واده، غم ښادئ او ټول احكام په تفصيل سره بيان كړے شوي دي. مالدار، غريب، بادشاه، وزير، د ښځې او خاوند او د بال بچو تر دې چې دُنيا نه د تلونكو او هر قِسم كس د پاره قانون جوړ شوے دے. د دې سره سره د اسلامي احكام دومره آسان دي چې هر كس پرې عمل كولے شي. اسلامي قوانين داسې مضبوط، مكمل او نه بدليدونكي دي چې د دې مثال نشته.

## اسلام او خانداني نظام

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د دِينِ اسلام دا خُصُوصِيَّت دے چې كه د ژوند هره مرحله وي، اسلام په خپل يو حكم كښې هُم دا احساس نه دے پرېښودے چې ده به ګنې يو كس يا د ژوند يو اړخ نظر انداز كړے وي، يا به ئې ګنې د چا د پيژندګلو ختمولو كوشش كړے وي. اسلام د خانداني نظام مضبوط ساتلو داسې احكام بيان كړي دي چې هغې سره صرف خاندان نه بلكه ټوله مُعاشره مضبوطيږي

[1] ... بخارى، كتاب الادب، باب ليس الواصل بالمكافيء، ۴/۹۸، الحديث: ۵۹۹۱

www.dawateislami.net

ځکه چې خاندان د مُعاشرے بنیادي جُز دے. د دې مضبوطیا د مُعاشرے مضبوطیا ده. اسلام چې څنګه اولاد ته د مور و پلار په وړاندې د اُفْ نه کولو حکم کړے دے هغسې ئې په مور و پلار باندې د اولاد د مکمل تربیت ذمه واري هُم اچولي ده. او فرمائیلي ئې دي چې په تاسو کښې هر یو نګران دے او د هر یو نه به د هغه د ماتحت په باره کښې تپوس کیږي. په خاوند او ښځه کښې ئې په هر یو باندې جُدا جُدا ذمه واري اچولي ده او فرمائیلي ئې دي چې څنګه په ښځو باندې د خاوندانو حُقُوق ادا کول واجب دي دغه شان په خاوندانو باندې د ښځو د حُقُوقو رعایت ساتل هُم لازم دي او سړو ته فضیلت حاصل دے. په یو خاندان کښې که د مور و پلار نه علاوه یا په مور و پلار کښې یو نګران دے او باقي د هغه ماتحت دي نو حکم ورکړے شوے دے چې کوم حاکم په خپلو ماتحتو دروازه بنده کړي نو الله پاك د هغه د پاره د خپل رحمت دروازے بندې کړي.[1] یو طرف ته ئې خرچ کوونکو ته داسې ترغیب ورکړے دے چې د ګاوندیانو په وجه ښوروا زیاته جوړوئ خو بل طرف ته ئې دا هم فرمائیلي دي چې چا ته [د سوال د پاره] لاس مه خورئ. ځکه چې پاسنے لاس د لاندیني لاس نه غوره دے. یو طرف ته سړو ته د نظر لاندې ساتلو حکم دے نو بل طرف ته زنانۀ ته د خپل ښائست نه ظاهرولو او د کور نه بهر د نه وتلو حکم هُم دے. یو طرف ته ئې حُکم فرمائیلے دے چې د تُهمَت ځائے ته مه ځئ نو بل طرف ته ئې دا هم فرمائیلي دي چې د چا په باره کښې بدګماني مه کوئ. مشرانو ته حکم دے چې په کشرانو شفقت کوئ نو کشرانو ته حکم دے چې د مشرانو ادب کوئ.

دا دے د اسلام خانداني نظام چې په دې کښې د هر یو د پاره داسې خواږه اُصول

---

[1] ... ترمذی ابواب الاحکام ص۲۲۷

بیان کړے شوي دي چې په دې باندې د عمل کولو په صورت کښې په خپل مینځ کښې د مینې محبت هغه مثال قائمیدے شي چې په خلقو کښې به جنګ جګړې، پټې دُښمنۍ، حسد او تکبُّر او د یو بل د قتل کولو قبیحه سلسلے ختمې شي او هر کور به د امن مرکز جوړ شي.

راځۍ اوس واورو چې زمونږه د بُزګانِ دین خانداني نظام به څنګه وو او د هغوئي د خپلې وینې د خپلوانو سره تَعَلُّق څنګه وو؟

## د خور ورور خپل مینځ کښې تَعَلُّق څنګه پکار دے؟

د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د خپل ورور سره محبت اوګورۍ چې د هغوئي د پاره به ئې دُعا کوله، د هغې ذِکر **الله** پاك په کلامِ پاك کښې فرمائیلے دے. سیپاره 6 سورهٔ أعراف آیت نمبر 151 کښې ارشاد دے:

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَ لِاَخِیْ وَ اَدْخِلْنَا فِیْ رَحْمَتِكَ ﳲ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: عرض ئې اوکړو اے ربه زما! ما او زما ورور اوبخښې او مونږه په خپل رحمت کښې داخل کړې او ته د ټولو رحم کوونکو نه زیات رحم کوونکے ئې.

په تفسیر صِراطُ الْجِنان کښې د دې آیت مبارَکه لاندې لیك دي: دا دُعائے مغفرت د اُمَّت د تعلیم د پاره ده، ګنې انبیاء عَلَیْہِمُ السَّلَام د ګناهونو نه پاك دي په دې وجه حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام خپل ورور په دې دُعا کښې شامل کړو حالانکه د هغوئي نه څه کوتاهي نه وه سرزد شوي. په دې دُعا کښې د حضرت هارون عَلَیْہِ السَّلَام زړه خوشحالول او د قوم په وړاندې د هغوئي عِزَّت ظاهرول هُم مقصود وو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

حضرت یوسُف عَلَیْہِ السَّلَام سره چې خپلو ورونړو کوم سلوك کړے وو هغه څومره

تکليف ورکوونکے وو خو هغوئي عَلَيْهِ السَّلام د بدلے اخستلو په ځائے ټول مُعاف کړل، په سيپاره 13، **سورهٔ يُوسُف** آيت نمبر 92 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| **قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ** | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اوئې وئيل نن په تاسو څه ملامتيا نشته الله دِ تاسو مُعاف کړي او هغه د ټولو نه زيات مهربانه دے. |

په حديثِ مبارك کښې دي: د چا چې درې لونړه يا درې خويندې وي يا دوه لونړه يا دوه خويندې وي او هغه د هغوئي سره ښه سلوك اوکړو او د هغوئي په باره کښې د **الله** پاک نه يَريدلو نو هغه ته به جنت نصيب شي.[1] بلکه يو ځل خو ئې څلور واړه ګوتې يو ځائے کړې او په جَنَّت کښې د خپل رَفاقَت زيرے ئې هُم واورولو: داسې کس به په جَنَّت کښې زما سره داسې [يعني يو ځائے] وي.[2]

## د حضرت جابِر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه د خپلو خويندو سره سُلوك

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو واوريدل چې خويندو سره د ښه سلوك کولو په سبب به جنت هُم نصيب کيږي او په جَنَّت کښې به د خوږ آقا، مکّي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره يو ځائے اوسيدل هم نصيب کيږي. بعضې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم خو د خپلو خويندو د پاره غټې غټې قربانئ هم ورکړې دي لکه څنګه چې حضرت جابِرِ بِن عبدُ الله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْه د خپلو 9 يا 7 خويندو د پالنې، د هغوئي د خدمت او ښه تربيت په وجه د يوے کونډې ښځې سره نکاح کړې وه. چې کله حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا

---

[1] ...ترمذی، ۳/۳۶۷، حدیث:۱۹۲۳

[2] ...مسند احمد، ۴/۳۱۳، حدیث:۱۲۵۹۴

واوريدل نو د هغوئي د پاره ئې د برکت دُعا اوفرمائيله.[1]

مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د زړه په خوشحالئ د دوو جينکو پالل که هغه خپلې لونړه وي يا که خويندې يا يتيمانې وي، د قيامت په ورځ د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د نزديکت ذريعه ده او چا ته چې په هغه ورځ د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نزديکت نصيب شي هغه ته هر څه نصيب شو.[2]

گر محمد کا ساتھ ہو جائے | پھر تو سمجھو نجات ہو جائے

## د حُضُور ﷺ د خپلې رضاعي خور سره ښه سلوك

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت جابِر رَضِيَ اللهُ عَنْه ته د خويندو سره د ښه سلوك کولو جذبه چې د کوم در نه مِلاو شوي وه، د هغې به څه وائے! يعني زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا شان وو چې په جنگِ اوطاس کښې کله دُښمن شکست اوخوړو نو په جنګي قيديانو کښې د حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضاعي خور او د حضرت حليمه سعديه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لُور حضرت شِيماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هم قيد شوي وه. چې کله د پيژندګلو د پاره د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره کړے شوه او اُوئې پيژندله نو د ډيرې مينې نه ئې په سترګو کښې اوښکې راغلې او خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې د کښيناستلو د پاره خپل څادر مبارك په زمکه خور کړو او بيا ئې يو څو اوښان او چيلئ ورکړې او ارشاد ئې اوفرمائيل: ته آزاده ئې، که غواړې نو زما سره اوسه او که خپل کور ته تلل غواړې نو هلته به دِ اُورسووم. هغې خپل کور ته د تللو

---

[1]... مسلم، كتاب الرضاع، باب استباب البكر، حديث: ٣٦٤١

[2]... مرأة المناجيح، ٦/٥٤٦

خواهش ښکاره کړو نو په ډېر عِزَّت او احتِرام ئې د هغې قبیلے ته اورسوله.[1]

| | |
|---|---|
| سُنّتوں کی بہاریں عطا | یا حبیبِ خدا کیجئے |
| بھائیو! گر سکوں چاہیے | سُنّتوں پر چلا کیجئے(2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** یقیناً د خور ورور په خپل مینځ کښې تَعَلُّق هُم هغسې ساتل پکار دي څنګه چې شریعت حکم کړے دے. د اسلام تعلیمات دا هم دي چې لوئ دِ په وړو شفقت کوي او واړه دِ د لویو ادب کوي.

حضرت عبدُ الله بِن عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرضوان ته مُخاطب شو او اوئې فرمائیل: هغه کومه وَنه ده چې پاڼړې ئې نه ریژیږي او هغه د مومِن په شان ده. د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْه ځوئ حضرت عبدُ الله رَضِیَ اللهُ عَنْه هم هلته موجود وو، فرمائي چې زما په زړه کښې د دې جواب راغے چې هغه د کجورې وَنه ده خو ما د غټو صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرضوان په موجودګئ کښې جواب مناسب اُو نه ګنړلو او خاموشه پاتې شوم. بیا خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله جواب ارشاد اوفرمائیلو چې: هغه د کجورې وَنه ده. بیرته چې تللو نو ما خپل والد حضرت عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْه ته د سوالن د جواب په باره کښې اووئیل چې ما ته د دې سوال جواب راتلو خو زه ستاسو [مشرانو] د ادب په وجه خاموشه پاتې شوم.[3]

دا وو د صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرضوان تعلیم او د مشرانو ادب چې خبره ورته معلومه خو

---

[1]... شرح الزرقانی، المقصد الاول، الفصل غزوۃ اوطاس، ۵۳۴/۳ ملخصاً

[2]...وسائل بخشش (مرمم)، ص۵۰۶

[3]... ترمذی، کتاب الامثال، ما جاء فی مثل المؤمن...الخ، ج۴، ص۳۹۶، حدیث: ۲۸۷۶۔

د دې باوُجود ئې د مشرانو ادب اوکړو چې چرته مشران شرمِنده نه شي. کشرانو به دومره ادب کولو چې د هغوئي په موجودګئ کښې به ئې په محفل کښې خبره کول هم بے ادبي ګنړله. خو افسوس! نن د مشرانو کشرانو په مينځ کښې داسې مينه مَحبَّت نشته. نن د مشرانو کشرانو په مينځ کښې داسې د حيا مثالونه ډير کم مِلاويږي. نه په کشرانو کښې ادب شته، او نه مشران په کشرانو شفقت کوي.

**اے عاشقانِ رسول!** آيا تاسو ته معلومه ده چې په مونږ کښې د مشرانو او کشرانو تميز ولې ختم شو؟ ولې واړه د لويو ادب او لوئ د وړو سره مينه نه کوي؟ د دې د ټولو نه غټه وجه د دِينِ اسلام او د هغې د تعليماتو نه لرې والے دے. مونږه خپل اولاد دُنياوي طور په مُعاشره کښې اوچتې درجې ته رسوَلو د پاره هغوئي ته په ګرانو ګرانو سکولونو کښې دُنياوي تعليم ورکوو خو د آخرت د کاميابئ د پاره او د ژوند د اسلامي مقصد د پاره ديني تعليم نه ورکوو. مونږ خپل اولاد ته په دُنيا کښې د کامياب کاروبار کولو او خوشحاله ژوند تيرولو د پاره تعليم او ډِپلومے ورکوو خو د قبر په امتحان کښې د پاس کيدلو د پاره او په آخرت کښې د جَنَّت حاصلولو د پاره د لمَانځه د ضروري تعليم او د فرائضو د بنيادي تعليم نه ئې محرومه ساتو. زمونږه مقصد دُنياوي نوکري ده او فرائض او واجبات مو هير کړي دي. مونږ ته د دُنياوي څيزونو مکمل معلومات خو شته خو د شرعي احکاماتو هډو علم نه لرو.

ياد ساتئ! د دُنيا ټولې کاميابئ د اسلام په تعليماتو کښې پټې دي. د اسلامي تعليم په ذريعه په دُنيا کښې هم کاميابي حاصليږي او په آخرت کښې هم کاميابي حاصليږي. نن عام طور د دُنياوي تعليم حاصلولو غټ مقصد مال حاصلول دي حالانکه په هُم دې دُنياوي مال کښې د بَرَکت حاصلولو د پاره دِينِ اسلام دا تعليم ورکوي چې ته د خپلې وينې د خپلوانو [يعني مور پلار خويندو وررونړو وغيره] سره نيك سلوك كوه الله پاك به ستا

رزق زيات کړي او ستا په عمر کښې به برکت واچوي. نن د مال د پاره خور او ورور سره تَعَلُّق پريښودلے کيږي خو د اسلام تعليمات دا دي چې د خور او ورور سره تَعَلُّق ساتئ نو ستاسو په مال کښې به برکت واچولے شي. نن مُعاشي طور مضبوطيدلو د پاره د خپلو خپلوانو سره تَعَلُّق پريښودلے کيږي او بيا د يواځې اوسيدلو په وجه د ډِپريشن [يعني بے سکونئ په بيمارئ] او قِسما قِسم بيمارو کښې ګير شی. خو څوک چې په اسلامي تعليماتو باندې عمل کوي هغه د خپلوانو سره تَعَلُّق مضبوط ساتي او دغسې **الله** پاک د هغه په رزق او عمر کښې برکت اچوي او د هلاك کوونکو بيمارونو نه ئې **محفوظه** ساتي.

دُنيا دار دانشور [يعني دُنيوي هوښياران] خلق دا خبره تسليموي چې انسان د خپلې وينې د خپلوانو نه د لرې اوسيدلو په وجه په قِسما قِسم بيمارو کښې اخته کيږی. هم دا وجه ده چې په خلقو کښې قُوَّتِ برداشت ختم شي او په احساسِ کمترئ کښې مُبتلا شي او بيا يو بل سره جګړې کوي. تر څو چې انسان په خپل خانداني نظام کښې ژوند تيروي، نو د بے آرامئ او قسما قسم بيمارو نه بچ اوسي خو چې کله د دې نظام نه مخ واړوي او يواځې اوسيدل شروع کړي نو په قسما قسم بيمارو کښې اخته شي.

**اے عاشقانِ رسول!** مونږ ته پکار ده چې د اسلام په احکاماتو باندې عمل اوکړو، څکه چې په هُم دې کښې د دواړه جهانو خير دے. مونږ ته پکار دي چې د زړه نه پټه دُښمني لرې کړو او د وينې خپلوانو سره تعلق قائم کړو ☆ خپلو خپلوانو سره په ښه سلوك **الله** پاک راضي کيږي ☆ خپلو خپلوانو سره په ښه سلوك د يو بل نه زړونه خوشحاليږي.☆ خپلو خپلوانو سره په ښه سلوك فرښتے خوشحاليږي ☆ خپلو خپلوانو سره په ښه سلوك خلق هُم د انسان ستائنه [يعني تعريف] کوي ☆ خپلو خپلوانو سره ښه سلوك شيطان خفه کوي ☆ خپلو خپلوانو سره ښه سلوك کول عمر کښې بَرَکت اچوي

☆ خپلو خپلوانو سره ښه سلوك كول په رزق كښې بركت راولي ☆ خپلو خپلوانو سره د ښه سلوك په وجه وفات شوي مور و پلار او نيكونه خوشحاليږي ☆ خپلو خپلوانو سره ښه سلوك د مرګ نه پس ثواب زياتوي، ځكه چې كله خلقو ته د هغه احسانونه وريادېږي نو د هغه په حق كښې دُعائے خير كوي.[1] ☆ خپلو خپلوانو سره ښه سلوك كول انسان د قيامت په ورځ د حساب نه بچ كوي. ☆ خپلو خپلوانو سره ښه سلوك كولو والا به [د قيامت په ورځ] د عرش په سوري كښې وي. اِنْ شَآءَالله

**اے عاشقانِ رسول!** مونږه واوريدل چې صلۂ رحمي يعني خپلو خپلوانو سره ښه سلوك واجب دے او د دې ډيرې فائدے دي. راځئ چې اوس واورو چې صلۂ رحمي يعني خپلو خپلوانو سره ښه سلوك څه ته وائي؟

امیرِ اهلِسُنَّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د خپلو خپلوانو سره د ښه سلوك كولو ډير ښكلے وضاحت كړے دے ليكي: د صلۂ رِحمئ مُختلف صورتونه دي: هغوئي [يعني خپلو خپلوانو] ته تُحفه وركول او كه د مدد ضرورت لري نو د هغوئي مدد كول، هغوئي ته سلام كول، د هغوئي ملاقات له ورتلل، هغوئي سره كښيناستل، هغوئي سره خبرې كول، هغوئی سره د نرمئ او مهربانئ سُلُوک كول.[2]

## خپلوانو سره صلۂ رحمي واجب ده

**اے عاشقانِ رسول!** شريعت درجه په درجه خپلو خپلوانو سره د ښه سلوك كولو

---

[1]... تَنبيهُ الغافِلين، باب صلة الرحم، ص73

[2]... احترام مسلم، ص34، بحواله (دُرَرج1ص323)

حکم کړے دے، د چا سره چې څومره نِزدې خپلولي ده هغه سره هغه همره زيات د ښه سلوك کولو حکم دے، علامه يحيٰی بِن شرف نَوَوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ټولو نه زيات د حُسنِ سلوك مستحِقو کسانو ترتيب وار بيان کړے دے، فرمائي: د حُسنِ سلوك د ټولو نه زياته حقدار مور ده، بيا پلار، بيا اولاد، بيا [د پلار له طرفه] نيکه او نيا، بيا خور او ورور، بيا ټول د وينې خپلوان يعنې تره، ترور [يعنې د پلار خور]، ماما او ترور [يعنې د مور خور]. بيا په دوئي کښې چې د چا سره نِزدې تَعَلُّق دے هغه ته به په نورو ترجيح حاصله وي. داسې خپلوان چې د هغوئي تَعَلُّق د مور او پلار دواړو سره وي، هغوئي ته به په هغه خپلوانو ترجيح ورکوو کوم چې صرف د مور يا صرف د پلار له طرفه دي. د هغوئي نه پس تره، ترور [يعنې د پلار خور]، د ماما او د ترور [يعنې د مور د خور] اولاد، بيا د دې نه پس د سخرانې د خپلوانو حق دے. بيا درجه په درجه د دوست حق دے، بيا د ګاونډيانو حق دے، خو لرې خپلوانو ته به په ګاونډي باندې ترجيح ورکوئ. که نِزدې خپلوان مو په لرې ښار کښې اوسي نو هغه به هم په ناشنا ګاونډي مقدم کوئ [يعنې ترجيح به ورکوئ] او بيا به خاوند د بي بي او بي بي د خاوند د خپلوانو سره حُسنِ سلوك کوي.[1]

## خپلوانو سره د تَعَلُّق پرينښودو سپيره والے

**خوېندو او محترمو اسلامي ورونړو!** څنګه چې په ښه سُلوك کولو باندې قِسما قِسم اِنعامونه دي دغه شان د خپلولئ په ختمولو باندې قسما قسم وعِيدُونه هُم دي. په سيپاره 13 سورۂ رَعد آيت نمبر **25** کښې ارشاد دے:

وَيَقۡطَعُوۡنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ يُّوۡصَلَ

[مَفۡهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او د څه د يو ځائے کولو چې الله فرمائيلي دي هغه بيلوي او په زمکه کښې فساد

[1] ... شرح مسلم للنووی، کتاب البر والصلة والآداب، باب بر الوالدين وانهما احق به، 103/8، جزء 16۔

| | |
|---|---|
| وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓىٕكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿۲۵﴾ | خوروي، د هغوئي برخه لعنت دے او د هغوئي نصيب بد كور دے. |

په تفسير صِراطُ الْجِنان كښې دي: الله پاك چې د صلۀ رِحمۍ او خپلولۍ را يو ځائے كولو حكم كړے دے هغه ماتوي، كفر او ګناهونه كوي او په زمكه كښې فساد خوروي، د هغوئي د پاره د قيامت په ورځ د **الله** د رحمت نه لرې والے دے او بد كور يعني جَهَنَّم دے.[1]

الله پاك په سيپاره 4 سورۀ نسآء آيت نمبر1 كښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَ الْاَرْحَامَ ؕ (پ۴، النساء:۱) | [مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالاِيمان : او د **الله** نه اُويَرېږئ د چا په نوم چې غواړئ، او د خپلولو لحاظ ساتئ. |

**خوېږو او محترمو اسلامي وروڼږو!** د خپلوانو سره تَعَلُّق پرېښودلو كښې هيڅ خير نشته بلكه دا سراسر نُقصان دے. او دا دومره اهم كار دے چې په ورځ د قيامت به د دې په باره كښې تپوس كيږى چې آيا تا د وِينې د خپلوانو سره تَعَلُّق قائم ساتلے وو؟

**ياد ساتئ!** شرعي طور د يو مسلمان سره هُم تَعَلُّق كټ كول جائز نه دي خو خپلوانو سره تَعَلُّق پرېښودل زياته سخته [ګناه] ده. خپلوانو سره تَعَلُّق پرېښودلو والا څومره بدنصيبه دے، د دې اندازه تاسو د دې حديثِ پاك نه اولګوئ، چې په دې كښې خوږ آقا مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د خپلوانو سره قَطعِ رِحمي [يعني تَعَلُّق ماتولو والا] به جنت ته نه ځي. په يو بل حديثِ پاك كښې دي چې هغه به د جَنَّت خوشبوئي هم نه شي بُوئيولے.

---

[1] ... خازن، الرعد، تحت الآية: ۲۵، ۳/ ۶۳۶۵، ملخصاً

د خپلوانو سره تَعَلُّق پريښودلو والا داسې بدبخته دے چې په هغه د آسمان دروازے بندې کړے شي. د خپلوانو سره تَعَلُّق ماتولو والا به صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم د خپل مجلس نه ويستلو څنګه چې په حديثِ پاك کښې دي چې:

حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡہ يو ځل د سحر د وخت په مجلس کښې اوفرمائيل: زه خپلوي ماتولو والا ته د **الله** پاك قَسَم ورکووم چې هغه دِ د دې ځائے نه پاڅي چې مونږه د الله پاك نه د بخښنې دُعا اوغواړو، ځکه چې خپلوانو سره تَعَلُّق ماتوونکو باندې د آسمان دروازے بندې اوسي.[1] يعنې چې که هغه دلته موجود وي نو رحمت به نه نازليږي او زمونږه دُعا به نه قبليږي.

**اَللّٰہُ اَکۡبَر!** مونږه د **الله** پاک پناه غواړو او د هغه نه خير غواړو چې هغه مونږه د داسې جُرم نه محفوظه اوساتي او په مونږه د خپل رحمت دروازے بندې نه کړي. **اٰمين**.

**اے عاشقانِ رَسُول!** د **الله** پاک نه اُويَرئ، که چرې مونږه په دې ګناه کښې اخته يُو نو د دې نه فوراً توبه کول پکار دي، هسې نه چې د دې د سپيره والي په وجه په دُنيا کښې هُم ذليله شو او په آخرت کښې هُم د عذاب سره مخامخ شُو ځکه چې په قطعِ رِحمي کولو والا [يعني خپلوانو سره تَعَلُّق ماتولو والا] باندې رَحمت نه نازليږي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوريدل چې صِلهٔ رِحمي **الله** پاك خوښوي او قطعِ رِحمي الله پاك نه خوښوي. خپل ځان د الله پاك رحمت حقدار جوړولو او د الله پاك د عذاب نه بچ کولو د پاره د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط کړئ. دا ديني ماحول به تاسو صِلهٔ رِحمي کولو والا جوړ کړي او د قَطعِ رِحمي نه به مو

[1] ... معجم کبير، باب العين، عبدالله بن مسعود الهذلى... الخ، ۹/۱۵۸، حديث: ۸۷۹۳

منع کوي. دا داسې ښکلے ماحول دے چې په دې کښې د شاملېدونکو کروړاؤ خلقو ژوند په عشقِ رسول کښې بدل شوے دے او د سُنتو پابند جوړ شوي دي، د دې ماحول په برکت خپلوانو سره تَعَلُّق ختموونکي د خپلوانو سره **محبت** کوونکي جوړ شوي دي بلکه نورو خلقو ته هُم اوس د دې خبرې درس ورکوي.

## دولسو دیني کارونو کښې یو دِیني کار "د تفسیر اوریدلو، اورولو حلقه"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راشئ! او په ځان کښې د حُسنِ سُلُوك جذبه پیدا کولو د پاره د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط کړئ او د خپلو مصروفیاتو نه وخت اوباسئ او دولسو دِيني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډیرو ثوابونو حقدار جوړ شئ او خپل قبر و آخرت ښائسته کړئ. په دې دولسو دِيني کارونو کښې یو دِيني کار هره ورځ د "**تفسیر اوریدلو، اورولو حلقه**" هم ده. د سحر د لمَانځه نه پس هره ورځ د درې آیتونو تلاوت سره د ترجمهٔ کنزُ الاِیمان او تفسیر خزائنُ العرفان یا تفسیر نُورُالعرفان او یا د تفسیر **صِراطُ الْجِنان** نه کم از کم دوه صفحے، درسِ فیضانِ سُنَّت، منظوم شجرهٔ قادریه رَضَوِيَّه عطاریه د لوستلو او اوریدلو معمول وي. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! ☆ د دې حلقے په برکت په جُمات کښې د کښیناستلو ثواب حاصلیږي ☆ د قرآنِ کریم د ترجمے او تفسیر سره د پوهه کیدلو بهترینه موقع په لاس راځي، ☆ د اشراق و ځاښت د نوافلو ادا کولو موقع نصیب کیږی، ☆ د بُزرګانِ دین په ذِکرِ خیر باندې مشتملې د شجره شریف لوستلو او اوریدلو شرف حاصلیږی. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د دې شجرے مبارکې په برکت د ډیرو عاشقانِ رسول دُعاګانې قبلیږی، د مصیبتونو او پریشانو نه خلاصے نصیب کیږي او بند کارونه روانیږی،

په دې باره کښې د ترغیب په طور یو مدني سپرلے واورئ او خوشحاله شئ، چنانچه

www.dawateislami.net

## ویزے مِلاؤ شوے

یو اسلامي ورور تقریباً د 14 کالو نه په بَهَر وطن کښې وو. هلته هغه ته یو ځل په خپله کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پیښ شو. هغه د ویزو د پاره بیا بیا درخواستونه جمع کړل، خو د ډیرو کوششونو باوُجود ویزے مِلاؤ نه شوے. د مُلازمانو د نشتوالي په وجه هغه ته نقصان کیدلو. خیر هغه همَّت اوکړو او یو ځل ئې بیا درخواست جمع کړو. په دې دوران کښې یو اسلامي ورور هغه ته د "**شجره قادریه رضویه ضیائیه عطاریه**" نه د شجره عالیه د دُعائیه اشعارو لوستلو مشوره ورکړه. هغوئي د شجرے شریفې نه دُعائیه اشعار پابندئ سره لوستل شروع کړل. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د شجره قادریه رَضَوِیَّه ضِیائیه عَطّارِیه لوستلو په برکت د هغه هُغه کار چې د څو کالو نه نه کیدلو، د حیرانیدلو خبره ده چې په یو څو ورځو کښې اوشو او هغه ته ویزے ملاؤ شوے.

مُشکلیں حَل کر شَہِ مُشکِل کُشا کے واسطے | کر بلائیں رَد شہیدِ کربلا کے واسطے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د قرآن ټیچر ایپ (Application) تعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو**! د عاشقانِ رسول مدني تحریك دعوتِ اسلامی په ټوله دُنیا کښې دا وخت د 107 نه زیاتو شعبه جاتو نه بعضې شُعبے په نورو شُعبو کښې ضم [یعني شاملې] کړي دي او د هغې نه اوس 80 شُعبے جوړې شوي دي او دا ټولې شُعبے دیني کار کوي، په دې شعبه جاتو کښې یوه شُعبه آئی. ټی ډیپارټمنټ (I.T Department) هم ده، دې شُعبے د عاشقانِ رسول د پاره ډیر موبائل ایپلي کیشنز جوړ کړي دي، په دې کښې د یو ایپلي کیشن نوم قرآن ټیچر هم دے. د دې ایپلي کشنز په ذریعه تاسو د 30 نه زیاتو دیني کورسونو کښې داخله اخستلو سره سره د خپلې

داخلے استېټس هم چيك كولے شئ، نور دا چې د كورس مختصر تعارُف، خپل رجسټرېشن كولو نه پس د خپل كلاس د كاركردګئ معلومات، د كورسونو مُتَعَلِّق تفصيلات او د فيضانِ آن لائن اكيډمي اپ ډيټس هم حاصلولے شئ. زر زر په خپل موبائل كښې دا ايپ انسټال كړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشَاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به په جنّت كښې زما سره وي."[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## د سلام كولو سنتونه او آداب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې! د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالے "**101 مدنی پهول**" نه د سلام كولو سنتونه او آداب واورو: ☆ مسلمان سره د ملاقات په وخت كښې هغه ته سلام كول سُنَّت دي. ☆ د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي كتاب بهارِ شريعت، جِلد 3، حِصَّه 16 صفحه459 كښې د ليكلي شوي جُزئے خُلاصه ده: "د سلام كولو په وخت كښې په زړه كښې دا **نِيَّت** پكار دے چې چا

1 ...ابنِ عساكر ج٩ ص٣٤٣

ته **سلام** کووم د هغه مال او عِزَّت او پرده ټول زما په حِفاظَت کښې دي او زه په دې څيزونو کښې دَخل اندازي کول [يعني کار لرل] **حرام** ګڼړم."[1]

☆ که په ورځ کښې هر څو ځله ملاقات کيږي، که د يوے کوټے نه بلې کوټے ته بيا بيا تلَل راتلَل وي، هلته موجودو مسلمانانو ته **سلام** کول د ثواب کار دے.

☆ په **سلام** کولو کښې د بل نه **مخکښې** کيدل سُنَّت دي. ☆ په **سلام** کښې **مخکښې** کيدلو والا د **الله تعالیٰ** مُقَرَّب (يعني نزديکت موندونکے بنده) دے. ☆ په **سلام** کښې **مخکښې** کيدلو والا د تَکَبُّر نه بَري (يعني آزاد) دے. څنګه چې زمونږ د **خوږ آقا مکي مدني مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: اول سلام کوونکے د تَکَبُّر نه بَري دے.[2] ☆ [مخکښې] **سلام** کوونکي باندې 90 رحمتونه او په جواب ورکونکي باندې 10 رحمتونه نازليږي.[3] ☆ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وئيلو باندې 10 نيکۍ حاصليږي. او که ورسره **وَرَحْمَةُ اللهِ** اُووائې نو 20 نيکۍ به شي. او که **وَبَرَكَاتُهٗ** ورسره شامل کړئ نو 30 نيکۍ به شي. ☆ بعضې خلق سلام سره د "**جَنَّتُ الْمقام** او **دُوزَخُ الْحَرام**" الفاظ زياتوي، دا غلطه طريقه ده. بلکه بعضې بے باکه خو **مَعَاذَ الله** د دې حده پورې هم وائي: [يعنی اُردو وئيلو والا بعضې په ګپ کښې داسې وائي تیرے بچے میرے غُلام يعني] "ستا بچې زما غلامان". ☆ د **سلام** جواب فوراً او په دومره آواز کښې ورکول واجب دي چې **سلام** کولو والا ئې واوري. ☆ **سلام** او د **سلام** د جواب

---

1 ... بهارِ شريعت، ۳/۴۵۹، حصه ۱۶ ملخصاً

2 ... شعب الايمان، باب فی مقاربة و موادة اهل الدين، ۶/۴۳۳، حديث: ۸۷۸۶

3 ... کيميائے سعادت، ۱/۳۹۴

صحيح تَلَفُّظ ياد كړئ. اول ئې زه وائم تاسو ئې واورئ او بيا ئې اووائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (اَس.سَلا.مُ عَلَےْ.كُمْ) اوس زه جواب وائم بيا ئې تاسو اووائې: وَعَلَيْكُمُ السَّلام (وَ.عَ.لَيْكُ.مُس.سَلام).

قِسماقِسم سنّتونه زده كولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه كتابونه (۱) ۳۱۲ صفحو كتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو كتاب "سُنّتيں اور آداب" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دوه رسالے "101 مدنی پھول" او "163 مدني ګلونه" هديةً واخلئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پروردگار
سُنّتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار
(وسائلِ بخشش مرمم، ص۶۳۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې

د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او **قَبْر** کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه **قَبْر** کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴾2﴿ ټول گناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه گُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُم حيران شو چې دا ځوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: ځوك چې داسې دُرود شريف اولَولي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْھُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴾2﴿ داسے ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْكَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب ! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵